AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۶/۰۷/۲۰

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(پنځه ویشتمه برخه)




(د ټيټيپي لهخوا غنیمت شوی زغرهوال ګاډی. (هاموي)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۱)

## تحریک طالبان پاکستان (ټيټيپي)، د بېنظیر بوټو د وژلو مسؤلیت ومانه

لکه څرنګه چې په لومړیو کې ډېرو پاکستانیو او بهرنیو څېړونکو، (زما په شمول)، فکر کاوه چې د بېنظیر بوټو په وژلو کې ټيټيپي لاس نه لري او لکه چې ومولوستل، ټيټيپي ډلې هم د بېنظیرې په مرګ کې خپل لاس لرل په کلکه رد کړي وو خو لس کاله وروسته، کله چې په ۲۰۱۷ز. کال کې د ټيټيپي اوسني مشر **مفتی نور ولي مسید**، د **(انقلابِ محسود**[1]، ساؤتھ وزیرستان: فرنگی راج سے امریکی سامراج تک) په نوم یو کتاب، په ۶۸۸ مخونو کې، په اردو ژبه چاپ کړ نو په هغې کې یې

[1]: مسید: د مسید نوم د وزیرستان په محاوره کې (مسید) ویل کیږي، (محسود او مسعود) هیڅ ډول تاریخي ریښه نه لري او نه د مسیدو په قوم پورې تړاؤ لري، دا دوه نومونه هسې د خلکو خپل خیالات دي. زموږ دنده ده چې د مسیدو خپل تاریخي نوم وساتو او په لیکنو او ویناوو کې د قوم اصلي نوم (مسید) ولیکو.
د مسیدو قوم د وزیرو له قوم څخه جلا قوم نه دی، مسید په لویه کې هماغه وزیر او د یوه پلار وزیر زامن دي چې باید ځان له وزیرو جدا او ځانګړی قوم ونه بولي. مسید د وزیر کړوسی کیږي، د وزیر په شجره کې راځي: وزیر دوه زامن درلودل چې یو خدری نومیده او د بل نوم لالی ؤ، خدري درې زامن لرل: موسی چې په درویش مشهور ؤ، مبارک او بل یې محمود ؤ چې مسید د همدغه محمود نومې زوی، د خدري لمسی او د وزیر کړوسی دی.
د وزیر دویم زوی لالی له خپلې سیمې څخه د بدۍ له امله چې یو شیتک [اوسني بنوڅي] یې وژلی ؤ، د ننګرهار خوږګیانیو ته راغلی ؤ، د ننګرهار لالي وزیر د همدغه لالي زامن او د وزیر لمسیان دي. (د ډېر مالوماتو لپاره ولولئ: (پښتني قبیلې) د محقق ډاکټر عبداللطیف یاد کتاب؛ د محمد حیات خان تاریخ: حیات افغاني هم وګورئ.)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پر بېنظیر بوټو باندې د کراچۍ چاودنو او د بېنظیرې د وژلو مسؤل، د دغې ډلې پخوانی مشر، بیت الله مسید بللی دی. موږ له نوموړي کتاب څخه پر بېنظیره باندې د کراچۍ د چاودنو او د لیاقت باغ سره نږدې، د هغې د وژل کیدو مالومات پښتو ته ژباړلي دي خو د پېښې د حساسیت او اهمیت له امله د کتاب اړوند اردو متن هم لیکو، لومړی، د کراچۍ د چاودنو، اردو متن:

## کراچی بمقام کارساز بینظیر بھٹو پر خودکش حملے

«بیت الله محسود کو ملی تھی۔ اس پلان کا اہم جز یہ تھا کہ امریکہ، بینظیر بھٹو کو اچھی طرح جانتی تھی کہ وہ عوام اور فوج کو ساتھ لیکر دہشت گردی خلاف مضبوط حکومت قائم کر سکتی ہے اور پاکستان مکمل ایک امریکی ریاست کی فکر لے کر آرہی تھی۔ چنانچہ امریکہ کے اس مقصد کو ناکام بنانے کے لیے اکتوبر 2007 میں عید الفطر کے چند دن بعد جب بے نظیر بھٹو کراچی پہنچی تو بمقام کارساز 2 فدائین محسن محسود، رحمت الله محسود نے انکے جلوس پر خودکش حملے کئے جسمیں 200 تک جلوس کے شرکاء ہلاک ہوئے۔ البتہ بے نظیر بھٹو بال بال بچ گئی، فدائین کو منصوبہ ساز نے جس جگہ پر ٹھہرنے کا کہا تھا ان سے خلاف ورزی ہوئی تھی جسکی وجہ سے یہ حملے ناکام ہوئے۔ اس حملے کے اصل منصوبہ ساز کے بقول فدائین کو سٹیج کے پاس تعینات کیا گیا تھا لیکن انہوں نے بے صبری سے کام لیکر وہاں سے ہٹ کر جلوس میں ان پر حملہ آور ہوئے جسکی وجہ سے یہ کاروائی اصل ہدف کے اعتبار سے ناکام ہوئی، یہ دونوں فدائین مولوی عظمت الله صاحب کے تربیتی مرکز سے وابستہ تھے، ان میں فدائی رحمت الله شہید کا تعلق حلقہ سراروغہ سے تھا اور فدائی نور حسین شہید کا تعلق حلقہ بروند سرویکئی سے تھا۔ تین دن بعد لڑکانہ میں منصوبہ تیار ہوا تھا لیکن طالبان نما مجاہد شخص معراج کئی خیل نے جاسوسی کر کے پولیس کو خفیہ اطلاع دی تھی جسکی وجہ سے حکومت نے پہلے سے اعلان کیا کہ لڑکانہ میں حملے کی منصوبہ بندی کی گئی ہے اور یہ منصوبہ ناکام ہوا.»

نوٹ: ان دنوں فدائی نور حسین فدائی کی تیاری میں مصروف تھے۔ تو دوسری طرف انہی دنوں میں آپکے شادی کی تیاری بھی ہو رہی تھی، امیر محترم بیت الله محسود اور دوسرے ساتھیوں نے ان سے بہت اصرار کیا کہ آپ شادی کیلئے گھر جائے کسی دوسرے پروگرام میں آپکو شریک کیا جائے گا لیکن انہوں نے صاف انکار کیا کہ میں دنیا میں شادی کے بجائے جنت کی حوروں سے شادی کرنے جا رہا ہوں، چنانچہ ایسا ہی ہوا کہ جس دن آپکی شادی کی تقریب منعقد ہوئی اسی دن آپ نے فدائی حملہ کیا، لیکن آپکے گھر والوں کو معلوم نہ تھا کہ نور حسین کی شادی کی خوشی اور انکے فراق اور جدائی کا غم ایک ہی دن جمع ہوں گے، چنانچہ آپکے بیوی کی شادی کی تقریب منعقد ہوتے ہی وہ بیوہ ہوگئی، یوں فدائی نور حسین شہید نے قربانی کی ایسی عظیم مثال پیش کی جسطرح حضرت حنظلہ رضی الله عنہ نے پیش کیا تھا، الله تعالی انکی قربانی کو قبول فرمائیں، ان لله وانا الیہ راجعون۔ لیکن تاحال 27 دسمبر 2017 تک محسود قیادت نے بے نظیر بھٹو پر حملوں سے انکار کر کے اسکی تردید کرتی ہے، پاکستانی حکومت کے ثبوت اور دیگر شواہد سے محسود قیادت کی بات ناقص نظر آتی ہے۔ [2]

پښتو ژباړه:

[2]: **انقلابِ محسود،** ساؤتھ وزیرستان: فرنگی راج سے امریکی سامراج تک. ۳۹۵- ۳۹۶مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د کراچۍ د (کارساز) په سیمه کې پر بېنظیر بوټو ځانمرګي بریدونه

بیت الله مسید ته مالومه شوي وه. د دې پلان یوه مهمه برخه دا وه چې امریکا، بېنظیر بوټو ښه پېژندله چې هغه د ولس او پوځ په ملګرتیا د ترهګرۍ خلاف یو پیاوړی حکومت جوړولی شي او پاکستان ته په بشپړه توګه د یوې امریکایي صوبې (ریاست) په فکر کې راروانه وه ځکه نو د امریکا د دغه هدف د ناکامولو لپاره، د ۲۰۰۷ز. کال په اکتوبر کې د کوچني اختر څخه څو ورځې وروسته، کله چې بېنظیر بوټو کراچۍ ته ورسېده نو په (کارساز) نومي ځای کې **دوو فدایانو (محسن مسید او رحمت الله مسید) د هغې پر لاریون [کاروان] ځانمرګي بریدونه وکړل چې تر ۲۰۰ تنو پورې د کاروان ګډونوال په کې ووژل شول** خو بېنظیر بوټو د وېښته په واټن بچ شوه. د دغه برید د پلان جوړونکو، فدایانو ته په کوم ځای کې چې د دربېدلو ویلي وو، له هغه څخه سرغړونه شوي وه چې له امله یې دا بریدونه ناکام شول. د دغه برید د اصلي پلان جوړونکي په وینا، فدایان سټیج ته نږدې تاکل شوي وو خو هغوی بې صبري وکړه او له هغه ځایه په لیرې کېدو سره یې پر لاریون برید وکړ چې له امله یې دا کار د اصلي هدف په ترلاسه کولو کې ناکام شو. دا دواړه فدایان د مولوي عظمت الله صاحب د روزنیز مرکز سره تړلي وو، په دوی کې د فدایي رحمت الله شهید تعلق د (سره روغه) حلقې څخه ؤ او د فدایي نور حسین شهید تعلق د (سرویکۍ د بروند) حلقې سره ؤ. درې ورځې وروسته په (لاړکانه) کې هم [د برید] پلان جوړ شوی ؤ خو د طالبانو په خبره کې یو مجاهد ډوله تن (معراج کیيخېل) جاسوسي کړې وه او پولیسو ته یې پټ مالومات ورکړي وو چې له امله یې حکومت له وړاندې اعلان وکړ چې په لاړکانه کې د برید پلان جوړ شوی دی او [زموږ] دا پلان ناکام شو.[3]
خو تر اوسه، د ۲۰۱۷ز. کال، د ډسمبر تر ۲۷مې نېټې پورې، مسید مشرتابه پر بېنظیر بوټو باندې بریدونه رد کړي او انکار یې ترې کړی دی. د پاکستاني حکومت د ثبوتونو او نورو شواهدو له مخې د مسید مشرتابه وینا نیمګړې (بېبنسټه) ښکاري.

## بے نظیر بھٹو پر راولپنڈی لیاقت باغ میں حملہ

27 دسمبر 2007 کو فدائی بلال شہید عرف سعید اور فدائی اکرام اللہ راولپنڈی میں حاضر تھے، جب بے نظیر بھٹو کا جلوس لیاقت باغ پہنچا، تو فدائی بلال عرف سعید نے پہلے پہل پستول کے گولی سے بے نظیر بھٹو کو نشانہ بنایا جبکہ پستول کی گولی اسکے گردن میں جالگی، بعد از اں اس فدائی بمبار نے اپنے جسم سے باندی بارودی جیکٹ سے اتنا زوردار دھماکہ کیا کہ جلوس میں شریک لوگوں کے پرخچے اُڑ گئے۔ میڈیا رپورٹ کے مطابق اس حملے میں 24 افراد ہلاک ہوئے اور بیسیوں زخمی ہوئے اس دھماکہ سے پورا پاکستان ہل گیا۔ پر تشدد مظاہروں میں 139 ہلاکتیں ہوئیں جن میں چار پولیس آفیسر بھی شامل تھے۔ اس سے پہلے کراچی میں بھی بے نظیر بھٹو کو نشانہ بنایا تھا لیکن اس میں بال بال بچ گئی، اسکے باوجود حکومت کی طرف سے انہیں خاطر خواہ سیکورٹی فراہم نہ کی گئی، جسکی وجہ سے فدائین کی بڑی آسانی سے اس تک رسائی ہوئی، دھماکہ

[3]: یادداښت: په هغو ورځو کې فدايي نور حسين د فدايي برید په چمتووالي بوخت ؤ. بل لور ته په دغو ورځو کې د هغه د واده چمتووالی هم روان ؤ. محترم امیر بیت الله مسید او نورو ملګرو پر هغه ډېر ټینګار وکړ چې تاسو د واده لپاره کور ته ولاړ شئ او په کوم بل پروګرام کې به مو شریک کړو خو هغه په ښکاره انکار وکړ، ويې ویل چې زه په نړۍ کې د واده پر ځای د جنت له حورو سره واده کولو ته روان یم ځکه نو همداسې وشول چې په کومه ورځ د هغه د واده مراسم نیول شوي وو، په هماغه ورځ هغه فدايي برید وکړ. خو د هغه د کورنۍ غړي په دې نه وو خبر چې د نور حسین د واده د خوښۍ او د هغه د فراق او جلاوالي غم به په یوه ورځ سره یو ځای شي ځکه نو د هغه د مړینې د واده د مراسمو په کېدو سره سم، هغه کونډه شوه. په دې توګه فدايي نور حسین شهید د قربانۍ داسې یوه لویه بېلګه وړاندې کړه لکه څنګه چې حضرت حنظله رضی الله عنه وړاندې کړې وه. الله تعالی دې د هغه قرباني قبوله کړي. (انا لله وانا الیه راجعون.) انقلاب محسود ... ۳۹۶مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کے بعد کاروائی کے تمام تر نشانات اور علامات مٹادیئے گئے، تاکہ تحقیق میں ثبوت کسی کو ہاتھ نہ آئے، جس سے معلوم ہوا کہ پرویز مشرف حکومت اور آئی ایس آئی بے نظیر بھٹو کو صفحہ ہستی سے مٹانے پر رضامند تھے۔ کیونکہ اس سے قبل بے نظیر نے پاکستانی فوج اور خفیہ ادارے آئی ایس آئی کی بھارت میں خلفشار پیدا کرنے کا راز بھارت کو دیا تھا جس کی وجہ سے وہ ملک دشمن قرار دی گئی تھی اس پروگرام میں شامل فدائی اکرام اللہ وہاں سے نکلنے میں کامیاب ہوئے جو تاحال بقید حیات ہے اور انکا تعلق حلقہ مکین سے ہے اور فدائی بلال شہید کا تعلق حلقہ بدر سے تھا، مولوی عمران صاحب کے بقول اس کاروائی میں میری معاونت احمد، قاری اسماعیل، ملا احسان وغیرہ نے کی، 2008 میں سی آئی اے نے تحقیق مکمل کر کے بے نظیر کی قتل میں ٹی ٹی پی کو ملوث قرار دیا۔ لیکن اس وقت کے تحریک طالبان کے امیر بیت اللہ محسود نے بے نظیر قتل سے انکار کیا اور یہ کہا کہ بے نظیر کے والد بھٹو اور انکے بھائیوں کے جو لوگ قاتل ہے وہی بے نظیر کے بھی قاتل ہے جبکہ تا حال 27 دسمبر 2017 تک محسود قیادت بے نظیر بھٹو پر حملوں سے انکار کرتے چلے آئے ہیں۔[4]

ژباړه: **د راولپنډۍ په لیاقت باغ کې پر بېنظیر بوټو برید**

«د ۲۰۰۷ز. کال د ډسمبر په ۲۷مه نېټه، کله چې د بېنظیر بوټو کاروان (جلوس) د راولپنډۍ لیاقت باغ ته ورسید، فدایي (**بلال**[5]) شهید، مشهور په سعید او فدایي اکرام الله په راولپنډۍ کې حاضر وو. **لومړی فدایي بلال، مشهور په سعید، د توپانچې په ډزو بېنظیر بوټو په نښه کړه، د توپانچې مرمۍ د هغې په غاړه ولګېده. له هغه وروسته، دغه فدایي بریدکوونکي په خپل ځان پورې تړلي د چاودیدونکو توکو واسکټ یوه سخته چاودنه وکړه چې له امله یې په کاروان کې د خلکو د بدن غړي وپاشل (توټې، ټوټې) شول.**

د رسنیو د راپورونو له مخې، په دې برید کې ۲۴ کسان ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول چې دې چاودنې ټول پاکستان ولړزاوه. په خونړیو مظاهرو کې ۱۳۹ کسان ووژل شول چې په هغو کې د پولیسو څلور افسران هم شامل وو. له دې وړاندې په کراچۍ کې هم بېنظیر بوټو په نښه شوې وه خو هلته د وېښته په واټن بچ شوه او ژوندۍ پاتې شوه. له دې سره سره **د حکومت له لوري هغې ته مناسب امنیت نه ؤ چمتو شوی چې له امله یې فدایانو هغې ته په ډېرې اسانۍ سره ځان ورساوه.**

**له چاودنې وروسته، د پېښې د ځای ټولې نښې او شواهد له منځه یوړل شول تر څو د څېړنو پر مهال د چا لاس ته کوم ثبوت ورنهشي. له دې څخه مالومه شوه چې پرویز مشرف، حکومت او آیاېسآی د بېنظیر بوټو د له منځه وړلو په اړه همغږي وو** ځکه چې تر دې وړاندې بېنظیر، د پاکستان پوځ او د استخباراتو اداره آیاېسآی [لهخوا] په هند کې د ګډوډۍ د رامنځته کولو د راز افشا کولو له امله، د هېواد دښمنه بللې وه.
په دې پروګرام کې شامل فدایي اکرام الله له هغه ځایه په تېښته بریالی شو چې تر اوسه ژوندی دی او د هغه تعلق د مکین له حلقې سره دی او د فدایي بلال شهید تعلق د بدر له حلقې سره ؤ. د مولوي عمران

[4]: **انقلابِ محسود،** ساؤتھ وزیرستان: فرنگی راج سے امریکی سامراج تک. ۳۹۶- ۳۹۷مخونه
[5]: د سکاټلنډ یارډ د متخصصې ډلې لهخوا د بریدکوونکي بلال د جسد د پاتې شونو علمي معایناتو وښودله چې بریدګر یو تنکی ځوان ؤ چې عمر یې له ۱۶ کلونو زیات نه ؤ. https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

صاحب په ویناء په دې عملیاتو کې له ما سره احمد، قاري اسماعیل، ملا احسان او نورو مرسته کړې وه.

په ۲۰۰۸ز. کال کې سيآیاې خپلې څېړنې بشپړې کړې او د بېنظیر په قتل کې یې تيټيپي ککړه وبلله. خو د هغه وخت د تحریک طالبان د امیر بیت الله مسید له لوري د بېنظیر په قتل کې لاس لرل رد شول او دا یې وویل چې: **«د بېنظیر د پلار (ذوالفقارعلي بوټو) او د هغې د ورونو قاتلین چې څوک دي، هماغه خلک د بېنظیرې قاتلین دي»**، پداسې حال کې چې د ۲۰۱۷ز. کال د ډسمبر تر ۲۷مې پورې د مسید مشرتابه پر بېنظیر بوټو له بریدونو انکار کولو څخه کار اخیستی دی.»

د ژباړې پای

متل دی چې وايي:**«خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.»** او په پښتنو کې دا هم مشهوره ده چې «فلانی سړی خپلې خولې وخوړ.» بېنظیر بوټو هم خپلې خولې خوړلې ده، هغې به تل په خپلو څرګندونو کې وسلهوالې او ترهګرې ډلې ملامتولې، هغې له جنرال مشرف سره پر خپلو اختلافاتو سربېره، په پاکستان کې د تيټيپي وسلهوال بریدونه غندل. بېنظیر بوټو د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په میاشت کې، د اسلامآباد د **سره جومات (لال مسجد)** د پېښې څېلو ستاینه کړې وه. د دې لپاره چې بېنظیره د ترهګرې په جګړه کې خپل مخالف سیال، جنرال مشرف کمزورې وښیي، په وار وار یې پر جنرال مشرف نیوکې کولې چې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه کې ناکام پاتې شوی دی.
که له یوې خوا د بېنظیر بوټو خپلو څرګندونو، د وسلوالو ډلو او د پاکستان د حکومت، په ځانګړې توګه د جنرال مشرف مخالفت راپارولی ؤ، بل لوري ته د بېنطیرې ښځینه جنسیت او شیعه مذهب هم د هغو مذهبي وسلهوالو ډلو لپاره هم ستونزې ښکاریدې، هغوی په دې باور وو چې ښځه باید د یو اسلامي هېواد مشرې ونه کړي.
په دې تړاؤ د بیت الله مسید دوو همکارانو، هغه مهال چې د ۲۰۰۷ز. کال، د اکتوبر په پیل کې په سویلي وزیرستان کې د بيبيسي له خبریال **(سید شعیب حسن)** ملتیا کوله، وویل:**«هغه په حقیقت کې شیعه ده، نو موږ له هغې څه هیله لرلای شو؟»**[6]

د طالبانو پر وړاندې د بېنظیر بوټو سیاسي دریځ، دوه ډوله توپیري او په دوو بېلابېلو پړاوونو پورې اړه لري چې یو یې د خپل دویم ځل لومړي وزارت پر مهال (۱۹۹۳- ۱۹۹۶ز. کال) او بل یې د ۱۹۹۶ز. کال وروسته:
په تېر کې بېنظیر بوټو د جنرال مشرف په پرتله له طالبانو سره ډېرې ښېګڼې کړې وې، بېنظیر بوټو د خپل دویم ځل لومړي وزارت پر مهال (د ۱۹۹۶ز. کال. په اکتوبر) کې د طالبانو لومړی امارت په رسمیت وپېژاند او د ډېرو مرستو منظوري یې ورکړه، په دې اړه بېنظیر بوټو وایي:«... ما د پیسو د ورکولو اجازه ورکړه... کله چې مې اجازه ورکړه چې هغوی ته دې پیسې ورکړل شي، بیا نو ما ته څرګنده نه ده چې په پای کې څومره پیسې ورکړ شوي دي... په دې پوهېږم چې ډېرې پیسې وې **واقعاً، هغه یو سپین چیک ؤ.»**[7]

---

[6]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf

[7]: ستیو کول: د پیریانو جګړې. پښتو ژباړن: غلام محمد زرملوال.۴۲۶مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

امریکایی لیکوال (ستیوکول) یې په تړاو لیکي:**«بې‌نظیر بوټو په ناڅاپي توګه د یوې نوې افغان دلۍ مور وګرځیده.»**[8]




بې‌نظیر بوټو په نړۍ کې لومړنۍ سیاستواله وه چې د طالبانو شتون یې په رسیمت وپېژاند، هغې په ۱۹۹۵ز، کال کې د خپل لومړي وزارت پر مهال له طالبانو سره د مرستو له امله د طالبانو د مخالفینو لهخوا، **د طالبانو د معنوي او سیاسي مور په نوم یادیدله او په رسینو کې یې په جعلي انځورونو کې د بې‌نظیرې پر سر د ملایانو پګړې ورپه سرکړې وه.**[9]

وروسته له هغې چې بې‌نظیر بوټو، په ۱۹۹۶ز. کال کې له خپلې دندې ګوښه کړای شوه او بهر ته ولاړه نو هغې په خپلو څرګندونو کې د وسلهوالو ډلو کړنې غندلې او خپل مخالفت یې څرګنداوه. خو له دغو وسلهوالو، په ځانګړې توګه له تې‌تې‌پي ډلې سره یې په خپل پلان کې د سولې په رامنځ ته کولو هم ټینګار کاوه.

هغه مهال چې بې‌نظیر بوټو د ۲۰۰۸ز. کال په ټاکنو کې د درېیم ځل لپاره د پاکستان لومړي وزارت ته نومانده وه نو په خپلو راتلونکو پلانونو کې یې د جنرال مشرف خلاف، دا هوډ درلود چې له تې‌پې‌پي سره د خبرو له لارې یوې تل پاتې سولې ته ورسیږي، امریکایی لیکوال **اریک مارګولیس** وایي چې «ما دا مهال د پیپلز ګوند لپاره هغه نوی وړاندې شوی سیاسي پروګرام کتلی ؤ چې پر یوه خپلواکه تګلاره، د فیوډالیزم پر ختمولو **او په سوبه سرحد (خیبر پښتونخوا) کې د قبایلي او اسلامي جنګیالیو سره پر پخلاینه یې ټینګار کاوه.»**[10]

لکه چې پوهیږو، د پاکستان ټول چارواکي معمولاً، د افغانستان دښمنان او د امریکایانو پلویان تېر شوي دي، بې‌نظیر بوټو هم د افغانانو د تره لور نه وه، هغه هم د امریکا له پلویانو څخه وه خو حقیقت دا دی چې نوموړې د جنرال مشرف په څېر د امریکایانو دومره سخته سربښندلې نوکره هم نه وه چې امریکایانو ته یې د پاکستان د یوې برخې خاورې د اشغال او نورو سترو امکاناتو اجازه ورکړې او یا یې ژمنه کړې وي.

لکه څرنګه چې په تېرو پاڼو کې (د ترهګرۍ پر ضد جګړه) کې له امریکا سره د جنرال مشرف د یو ځای کولو په اړه یادونه شوې ده، اړینه بولم هغه مالومات وړاندې کړم چې څه ډول نوموړي جنرال د پاکستان ځمکه او فضا د امریکایانو په واک کې ورکړې وو:

پر امریکا باندې د ۲۰۰۱ز. کال د سپتمبر د ۱۱مې نېټې له بریدونو وروسته، جنرال پرویز مشرف د امریکا په مشرۍ د افغانستان د جګړې لپاره پاکستان ته پراخ پوځي، هوایي، ځمکني، استخباراتي او لوژستیکي امکانات برابر کړل. جنرال مشرف د افغانستان د ورانولو په موخه امریکایي او ایتلافي څواکونو ته لاندې هوایي ډګرونه او اډې ورکړې:

ــ د سېند په ایالت کې د **(جېکب‌آباد) هوایي ډګر**، دا اډه د سېند په ایالت کې پرته ده چې د امریکا د (C-130) او (C-17) ترانسپورتي الوتکو لپاره د اکمالاتو مهم مرکز ؤ.

---

[8]: ستیو کول: د پیریانو جګړې. پښتو ژباړن: غلام محمد زرملوال.۴۲۶مخ

[9]: https://www.kabulpress.org/article31034.html

[10]:https://www.tolafghan.com/articles/16002


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ په بلوچستان کې **(شمسي) هوايي ډګر** چې د عربي اماراتو لەخوا جوړ شوی ؤ چې تر ډېره د امریکایي بېپیلوټه الوتکو (ډرون) د فعالیتونو لپاره کارول کېده.
ـ د **(پاسنی یا پسني) هوايي ډګر** چې د بلوچستان په لویدیز کې د سمندر غاړې یوه هوايي اډه وه چې امریکایانو پر افغانستان او له ډیورنډ کرښې کوزې خوا پښتنو باندې د بمبارېو په موخه کاروله.
ـ د **(ډالبندین) اډه** چې د بلوچستان په ایالت کې یې موقعیت درلود، د امریکایي ځواکونو د اکمالاتو او استخباراتي فعالیتونو لپاره کارول کېده.
ـ د **(نوکندي) هوايي ډګر** بلوچستان په لویدیځ ایران پولې ته نږدې پروت دی.[11]
**پر دغو پنځو هوايي ډګرونو او اډو سربېره، مشرف د پاکستان ټول هوايي حریم د امریکایي او ایتلافي الوتکو پر مخ پرانیستی پرېښودلی ؤ چې په دې توګه، د جګړې په لومړیو پنځو میاشتو کې له ۲۸ زرو ډېرې الوتنې د پاکستان له فضا تېرې شوې.**

همدارنګه د پاکستان پر خاوره د ځمکنیو اکمالاتي لارو اجازه هم وکړای شوې وه چې پر دغو لارو یې له کراچۍ بندر څخه افغانستان ته اکمالات کول.
جنرال مشرف د القاعدې او طالبانو د غړو د نیولو په هکله له امریکایي استخباراتو سره خپل مالومات شریکول او د القاعدې او طالبانو د نیولو او وژلو په برخه کې یې له امریکایي استخباراتو او ځانګړو ځواکونو سره متېپهمتې ګډ عملیات ترسره کول. (په دې اړه د جنرال مشرف د خاطرو کتاب (د اور په لیکه) ولولئ.)
د ټيټيپي درې تنه مشران: **بیتالله مسید، حکیمالله مسید، مولوي فضلالله** او نور ټول مجاهدین د مشرف د استخباراتي مالوماتو او ګډو پوځي عملیاتو کې ویشتل شوي دي.
کومې مرستې چې جنرال مشرف له امریکایانو سره کړي دي، له دې نورې زیاتې مرستې، نه بېنظیر بوټو کولی شوې او نه هم بل چا، څه چې امریکایانو غوښتل او یا یې ورته اړتیا وه هغه ټول مشرف په واک کې ورکړي وو، **دلته ده چې د ټيټيپي مشر مفتي نور ولي مسید وینا، په حقیقت کې پر جنرال مشرف باندې دلالت کوي چې اصلاً، پاکستان یې د امریکایانو یوه صوبه ګرځولې وه.**[12]

دا ربښتیا ده چې بېنظیر بوټو د انګرېزانو او امریکایانو په مرسته او پر جنرال مشرف باندې د فشار راوړلو له امله پاکستان ته راستنه شوې وه، دغو هېوادونو کوښښ کاوه چې له جنرال مشرف سره یې یو جوړجاړي ته ورسوي.
په لومړیو کې د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش ادارې هڅه وکړه جنرال مشرف او د بېنظیر بوټو تر منځ جوړجاړی راولي، بوش غوښتل مشرف د پاکستان ولسمشر پاتې شي او بېنظیره لومړۍ وزیره وي چې په تړاؤ یې امریکایي چارواکي: د بهرنیو چارو وزیره **(کانډولیزا رایس)** او د بهرنیو چارو وياند **(ریچارډ بوچر)** د دغو خبرو اترو په منځګړیتوب کې رول درلود.

خو کله چې بېنظیرې د مشرف راتلونکي ولسمشرۍ ونه منله نو مشرف د هغې د له منځه وړلو په هڅه کې شو. په تېرو پاڼو کې مو ولوستل، د بېنظیر بوټو زوی بلاول زرداري ویلي وو چې **«مشرف**

---

[11]:https://jang.com.pk/thenews/dec2011-weekly/nos-11-12-2011/dia.htm

[12]: د ټيټيپي مشر نور ولي مسید په خپل کتاب (انقلاب محسود ...) کې لیکي: بېنظیر بوټو غوښتل د پاکستان هېواد، یوه امریکایي صوبه وګرځوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

**زما مور ته مخامخ ګواښ کړی ؤ چې د هغې امنيت له ده سره د اړيکو پر څرنګوالي پورې اړه لري.»**[13]

امريکايانو نه غوښتل جنرال مشرف له واکه ګوښه کړای شي او پر ځای بې‌نظير بوټو او يا د پيپلز ګوند بل څوک د پاکستان واکمن شي، هغه وو چې امريکايانو لا د مخه، د بې‌نظير بوټو له وژل کيدلو وړاندې له جنرال مشرف څخه په پټه ملاتړ پيل کړ، امريکايانو د ۲۰۰۸ز. کال په ټاکنو کې له مشرف سره پټې مالي مرستې کولې.
د پيپلز ګوند لوړ پوړی چارواکی او سناتور **(سردار لطيف خان کهوسا)** چې د بې‌نظير بوټو له نږدې سلاکارانو څخه ؤ، د ۲۰۰۸ز. کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه وويل:**«دولتي اداري د ټاکنو په پروسه کې لاس‌وهنه کوي. د ISI، د ټاکنو کمېسيون او پخواني حکومت له‌خوا پراخې درغلی روانې دي او هغوی لا هم خپل نفوذ کاروي، هغوی په پراخو درغليو بوخت دي.»**[14]
سناتور لطيف کهوسا زياته کړه چې پلان دا ؤ (هغه ورځ چې بې‌نظير بوټو ترور شوه) په هغه ماښام دغه راپور د امريکا دوو تنو قانون پوهانو ته وسپاري او لږ وروسته يې په عامه توګه خپور کړي.
په راپور کې يوه ادعا دا وه چې **د امريکا مالي مرستې په پټه د ټاکنيزو درغليو لپاره کارول شوې دي** او بله ادعا دا وه چې ISI يو داسې (سوپر کمپيوټر) لري چې هر ډول کمپيوټري سيستم ته ننوتلای شي او د ټاکنو کمېسيون له شبکې سره هم نښلول شوی دی. د ولسمشر مشرف وياند دغه ادعاوې مسخره وبللې.[15]

بې‌نظير بوټو د خپلو ټاکنيزو هلوځلو پر مهال، د ترهګرۍ خلاف او د امريکا پر پلوۍ خبرې کولې خو هېڅ داسې سند نه شته چې هغې له امريکايانو سره د نويو اډو ورکولو او يا يې د مشرف غوندې نورې زيان اړوونکي ژمنې کړي وي.
بې‌نظير بوټو په داسې حال کې ووژل شوه چې هغه لا واک ته نه وه رسيدلې او د طالبانو پر خلاف يې کوم عملي ګام نه و اخيستی.

په اسلامي شريعت او بين‌المللي قوانيو کې تر هغې چې عملاً کوم جرم يا ګناه نه وي ترسره شوی، په تشو خبرو او ګومانونو د يو انسان مرګ نه روا کيږي، بله دا چې لکه څرنګه چې د ټي‌ټي‌پي وياند مولوي عمر ويلي وو چې د پښتنو د دودنو له مخې موږ پر ښځو بريد نه کوو. د پښتنو د دود پر بنسټ پر ښځو بريد کول د پښتنو کار نه دی، کيدای شي د آی‌ايس‌آی جنرالانو او نورو پنجابي چارواکو، د ټي‌ټي‌پي مشرتابه د يوې ښځې وژلو ته هڅولي وي.

کله چې بې‌نظير بوټو ووژل شوه نو د لرو برو طالبانو دښمنانو ته د تبليغاتو ښه لاره هواره شوه، مخالفينو د خپلو سپکو سپورو په لړ کې وويل: **بې‌نظير بوټو د طالبانو معنوي او سياسي مور وه چې د خپلو حرامزاده زامنو له‌خوا ووژل شوه.**[16]

---

[13]:https://www.hindustantimes.com/world-news/pervez-musharraf-exploited-situation-to-assassinate-my-mother-bilawal-bhutto/story-AMblbksqrCSzBZWvD7nHZN.html
[14]:https://www.abc.net.au/news/2008-01-01/bhutto-had-proof-of-poll-rigging-plan/1000360?utm_source=chatgpt.com
[15]:https://web.archive.org/web/20080102010616/http:/www.abc.net.au/news/stories/2008/01/01/2129959.htm
[16]: https://af.shafaqna.com/FA/253113


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

نېټه: ۲۸/۴/۱۴۰۵

**نور بیا**

**[د ښاغلی محمد انور اڅړ نوری لیکنی په دی لینک کی ولولی.]()**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ